# قرآن کریم څه
# شی دی

شركاء التنفيذ:

دار الإسلام جمعية الربوة رواد الترجمة المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900
ceo@rabwah.sa
P.O.BOX: 29465
RIYADH: 11557
www.islamhouse.com

بسم الله الرحمن الرحيم

قرآن کريم د الله تعالی کلام دی چې د عالمونو رب او پيدا کوونکی دی، د پيغمبرانو او رسولانو په وروستي يو؛ محمد -صلی الله عليه وسلم- يې نازل کړی، ترڅو انسانانو ته د هغوی د پيدايښت موخه بيان کړي، او هغه څه ته يې لارښوونه وکړي چې د دنيا او آخرت نيکمرغي يې پکې ده، او د مرګ څخه وروسته د ابدي بدبختۍ څخه خلاصول دي، او دا د الهي کتابونو وروستی نازل شوی کتاب دی، د تېرو کتابونه تصديق کوونکی او د هغو د قوانينو (شريعتونو) نسخ کوونکی دی.

قرآن کريم يوه تلپاتې نښانه او معجزه ده، او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د نبوت ثبوت او دليل دی، الله جل جلاله پرې انسانان او پېريان ننګولي چې په څېر يې بل کتاب راوړي، که څه هم يو سورت وي، مګر دوی عاجز پاتې شول.

د 1400 کاله دمخه؛ د قرآن کريم له نزول راهيسې د تحريف او تغيير لاس ندی وررسيدلی، او دا به په عربي ژبې سره خوندي پاتې شي څرنګه چې په هغې باندې نازل شوی دی، لکه څرنګه يې چې الله تعالی تر آخر الزمان پورې د ساتلو کفالت او ضمانت کړی دی.

قران کريم د اسلام اصلي سرچينه او هغه اساسي قانون دی چې د بشر ژوند تنظيموي او په هر زمان او مکان کې يې اداره کوي، يوازې د الله عبادت ته بلنه ورکوي، او د هغه څه بيان او څرګندونه کوي چې انسان ورته د خپل رب او دين د پيژندلو لپاره اړتيا لري، او د کايناتو د پيدايښت پيل، او د انسان د پيدايښت مرحلې، او د تير او راتلونکي غيبي امورو په اړه خبر ورکوي، او د مخکينيو پيغمبرانو -عليهم السلام- کيسې بيانوي، چې څنګه الله تعالی د دوی سره مرسته وکړه او څنګه يې د هغوی دښمنان له منځه يوړل، په دې -قرآن کريم- کې عبادتونو، راکړې ورکړې او ښو

اخلاقو ته د بلنې بنسټونه شتون لري، د بدو اخلاقو پر وړاندې اخطار ورکوي؛ او د آخرت د برخليک په اړه چې يا خو جنت دی چې د مؤمنانو دی او يا خو دوزخ دی چې د ظالمانو او کافرانو کور دی.

او د دې ستر کتاب د اهميت له امله چې الله تعالی په عربي ژبه نازل کړی، او ټول بشريت ته يې د رسولو امر کړی؛ -ګرانه لوستونکيه- زموږ لپاره د خوښۍ ځای ده چې تاسو ته ستاسو په خپله ژبه ددې کتاب د معناوو ژباړه وړاندې کړو، ترڅو تاسو ددې کتاب په معنا پوه شئ او دا چې خپرول يې تحقق موندلی وي، کاري ټيم پدې کتاب پوهيدلو او ژباړلو کې خپلې هڅې ترسره کړې دي، په يقين سره چې ژباړه هر څومره سمه او کره وي، بيا هم د قرآن کريم د لويو معناوو په ترسره کولو کې پاتې راځي، کوم چې د قرآن کريم د معجزې څخه ډک نص دی چې د هر انساني کار څخه لوړ دی، او څوک چې غواړي په لا ډېرو حقايقو پوه شي چې قران کريم راوړي دي؛ موږ هغه ته سپارښتنه کوو چې عربي ژبه زده کړي په کومه چې نازل شوی دی.

وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

د قران کريم موسوعه

WWW.QURANENC.COM

موږ خوښ يو چې د قرآن کريم د موسوعې ويب پاڼه (WWW.QURANENC.COM) کې د هر آيت مخې ته د يادښتونو کړکۍ (وينډوز) له لارې د ژباړې د پراختيا لپاره ستاسو وړانديزونه او نظرونه ترلاسه کړو، او که تاسو غواړئ له موږ سره اړيکه ونيسئ مونږ ته د بريښناليک له لارې ليک استولی شئ: INFO@QURANENC.COM